# د هلک زوکړه

دود د یو قام سرمایه وي چي په هغو کښي د دوی د ملي ژوند نخښي وي او د ټولنیز ژوند ژوندي ساتلو دپاره دغه ډول دودونه ډیر ارزښت لري. نو په کار دی چي پښتون اولس خپل داسي ملي اثاثه له لاسه ور نه کړي.

لکه څنګه چي موږ د پښتانهٔ پر کلتور خبره کوو چي پښتون ځان ته خپل د وادهٔ دستور لري دغسي بل دود هم لري چي کله ماشوم پېدا شي یعني زوکړه یې وسي نو چي بیا دوئ کوم دود لمانځي هغه څه پر دې ډول دی:

چي کله په یو کور کښي د ماشوم زوکړه وسي نو اول خو دري ټکه وسي د هک دپاره او د نجلۍ دپاره ټکان نه کېږي نو خوشحالي وي او بیا درېیمه روځ ملا راوغواړي د هلک په غوږ کي اذان وروکړي او نوم پور کښېږدي و دې ته موږ د زوکړي دود وایو خوشحالي یې ډېره زیاته وي

په پښتني ټولنه کښې د هلک په زوکړه ډېره خوشحالي کيږي بالخصوص د هلک مور او پلار، او نور خپلوان يې ډېر په خوشحاله وي. د خوشحالۍ په دې مناسبت ډېر دودونه تر سره کيږي.

په پښتنو کښې تر نجلۍ د هلک په زوکړه خلک زیات خوشحاله کیږي ولې نارینه اولاد د خپل کور او د پلار نیکه وارث وي او نجلۍ د بل کور ته ودیږي. کله چې هلک وزیږي نو یوه زړه یا پخه ښځه په لوړ اواز د اناره کوي چې د خدای له داده، د مړو له یاده د پلاني زوی و زیږیدئ . او دې ښځې ته پیسې ورکول کیږي . خو د دغه دود پر ځای نن صباټکان کیږي چې طاق وي او د ټکانو کولو والا ته خوړي ، دوسمال یا واکي او کالي ورکول کیږي.

د هلک د ځلوښتي دود هم جوړيږي چي په هغه کښي نوکان اخيستل کيږي. په دي موقع هم خوشحالي جوړيږي او د نزدي کورونو ښځي راغونډيږي او د نوکانو پري کولو والا ته څه نه څه شی خامخواه ورکول کيږي. شپږ مياشتي پس د هلک د سر کلي دود وي چي په درب کيږي. په دي دود کښي اتڼونه کيږي او پسونه حلاليږي .هلک يو زيارت ته هم بيول کيږي چي د هري قبيلي د پير زيارت له بيول کيږي او هلته يې د سر ويښتان ور واخلي. د سر څه څوڼي يې ور پريږدي چي په هغه شنې مری، او د سپينو زرو مری، ور زړوي.

# جرگه

په پښتني دود کي جرګه ډېر لوړ ځای لري. د جرګې پرېکړه او فیصله په پښتنو کي د یو قانون حکم لري. او هر څوک چي د جرګې له حکم څخه سر غړونه وکړي پړ او ملامت ګڼل کېږي. لازمه سزا هم ورکول کېږي. که چېري د دوو تنو یا اولس په منځ کي یوه غټه لانجه او دعوه پېښه شي نو د دغه کار دپاره د کلي یا اولس لخوا قومي جرګه جوړېږي.

په کومه جرګه کې که څوک واک نهٔ ورکوي نو جرګه خپله فیصله اوروي. مګر د نهٔ منلو په صورت کې بیا بله جرګه جوړیږي. او جرګه والا کوښښ کوي چې خامخا د دواړو خواو ترمنځ روغه جوړه وکړي. کله چې جرګه راغونډه شي نو له دواړو خواو څخه واک اخلي او په منځ کې یوه مچلګه هم کښیږدي.او بیا فیصله وکړي.

جرګه د پښتنو يو داسي فيصله کوونکي خلک
وي چي په دي کښي د يو چا روغه کول او داسي
فيصله کول وي چي په دي ټول خلک اتفاق
وکړي په جرګه کي ټول مشران او فيصله
کوونکي خلک وي او هغه مشران وي چي د
جرګي په اصولو خبر وي چا ته چي د غه جرګه
وکړل شي هغه ئي مني او له فيصلي ئي
سرغړونه نهٔ شي کولای جرګه د پښتنو يو داسي
فيصله کوونکي خلک وي.

مشران او فیصله کونکي خلک وي او هغه مشران وي چي د جرګې په اصولو خبر وي چاته چي دغه جرګه وکړل شي هغه ئې مني او له فیصلې ئې سرغړونه نهٔ شي کولای
جرګه ځانته خپل قانون او ډېر لوازمات لري چي قانون د جرګې منل دي. په جرګه کي به خپل مشر وي او د هغه به خپل احترامات وي چي منل کېږي به و دي ته جرګه وائي په دې کښې د یو چا روغه کول او داسي فیصله کول وي چي په دې ټولو خلکو اتفاق وکړي.